مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۱۱/۱۲

وړیا انرژي

مور کولای شو په اسانۍ سره هر کال لږ تر لږه پینځه میلیارده افغانۍ، چې سل میلیونه ډالره کېږي، د انرژۍ له درکه وسپموو. د افغانستان غوندي خوار هېواد لپاره دغه پیسې کمې نه دي. زمور په ټولو ښارونو او یو شمېر کلیو کې خلك د پخلي لپاره له ګازه کار اخلي. هره کورنۍ د نفر په سر په میاشت کې لږ تر لږه یوه کیلو ګاز مصرفوي. که داسې وګڼو، چې زمور د هېواد لس میلیونه وګړي ګاز کاروي؛ نو په میاشت کې لس میلیونه کیلو ګاز مصرفوو. د ګازو د هر کیلو متوسطه بیه پینځوس افغانۍ وي. په دې حساب په میاشت کې پینځه سوه میلیونه افغانۍ په ګازو ورکوو.

د افغانستان اکثر سیمې په کال کې لس میاشتې لمر لري. که د لمر له انرژۍ څخه د پخلي او د اوبو د ایشولو لپاره کار واخلو؛ نو د لسو میاشتو د ګازو پیسې به مو سپمولې وي، چې پینځه میلیارده افغانۍ کېږي. نورې کورنۍ لرګی، د سکرو ډبرې، پچې، څپیاکي او نور شیان سوځوي. اکثر کورنۍ د سونګ دغه شیان هم په بیه رانیسي او په لسو میاشتو کې لږ تر لږه یو میلیارد افغانۍ پرې لګوي.

نن سبا ځینې موسسې لمریز نغري او اوبګرمۍ جوړوي. نغري یې داسې وي، چې له الومینیم یا له کانکرېټه مقعره نیم دایره جوړېږي. د کانکرېټو پر مخ یا زرورق یا هنداري لګول کېږي. دغه نغري د لمر تودوخه په یوه نقطه کې راټولوي، چې هلته د دبګ یا چایجوش د اینسولو لپاره ځای جوړ شوی دی. د لمریز نغري تودوخه دومره زیاته ده، چې د غوایې غوښه په ساعت کې نرموي او په ورځ کې پینځه شپږ واړې غټې چایجوشې ایشوي.

د پیسو د سپما تر څنګ دا نغري نورې ګټې هم لري. مور که هر شی وسوځوو، لوګی کوي. لوګی مو بدن او کالي بد بوی کوي، ټوخی راته پیدا کوي او د ساه بندۍ سبب ګرځي. پورته په اسمان کې د اوزون په نوم یو شی دی، چې د لمر تاوانې وړانګې ځمکې ته نه پرېږدي. لوګی چې پورته ځي، اوزون خرابوي. بیا د لمر تاوانې وړانګې ځمکې ته راځي، چې سړي ته د پوستکي سرطان پیدا کولای شي. لوګی د ځمکې هوا ګرموي، واوره او باران کموي او وچکالي رامنځته کوي. د وچکالي زور خو نو هر چا ته څرګند دی. لمریز نغري دغه تاوانونه نه لري او که مور یې وکاروو، ټول بشر ته به مو ګټه ورسېږي.

ګاز له خطره خالي نه وي. د ډبې د چاودنې او د اورلګېدنې خطر ورسره مل وي. د سونګ له هر شي سره د اورلګېدنې خطر شته؛ خو لمریز نغری بالکل بې خطره دی.

که لرګی یا څپیاکه وسوځوو، مجبور به یو چې ورته کښنو، هره شېبه نور خس په کې واچوو او پوکی وکړو، چې اور یې مړ نه شي. په دې توګه به یو کس له سهاره تر غرمې پورې خپل ټول وخت په پخلي ولګوي او نور کارونه به ځنې پاتې وي؛ خو لمریز نغری زمور وخت نه نیسي، یوازې هر نیم یا یو ساعت وروسته به یې د لمر خوا ته تاوو، نور څه نه غواړي.

د سکرو ډبرې بیا د مسموم کولو زیان هم لري. که سکاره په ازاده هوا کې تازه نه شي، سړی مسموم کولی او ان وژلی یې شي؛ خو لمریز نغری دغه خطر نه لري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سونګ شيان چې بلوو، لاسونه مو ککړېږي او د ميکروبي ناروغيو سبب ګرځېدی شي؛ خو لمريز نغري پاك سوتره وي، نه مو ورسره لوښي کودي تورېږي او نه مو کالي خيرنېږي.

د لرګيو د برابرولو لپاره ځيني خلك شني وني هم وهي. د خوست، پکتيا او کونړ اکثر غرونه چې پخوا به تك شنه وو، اوس سپېره شوي دي. ځيني خدای ناترسه خلك سلامت ځنګله ته اور اچوي، چې بيا سکاره يې خرڅ کړي. که ټول خلك د لمر له انرژیٔ کار واخلي، ځنګلونه به مو خوندي شي.

د لمريز نغري دومره ډېري ښېګڼې په دي ارزي، چې هر څوك يې واخلي. وړم کال دغه نغري په پينځه زره افغانۍ خرڅېدل. زمونږ خلك که هره مياشت دري دري سوه افغانۍ د سونګ په موادو ولګوي، باك يې نه وي؛ خو که پينځه زره افغانۍ په يوه وار په لمريز نغري ولګوي، ورته به ګرانه ښکاري.

خبريه موسسو او دولت ته بويه، چې د دي نغريو د رواجولو لپاره دي سب سايډي ورته ومني او په کمه بيه يې خلکو ته برابر کړي. که دا کار وکړي، ګڼ شمېر هېوادوال به مو د دي نغريو په جوړولو بوخت شي او د بې روزګارو شمېر به هم يو څه کم شي. په دي هيله چې دولت او موسسې مو دا غوښتنه واوري.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ